**ليکونکو**: راد نوردليند او مجيب مشعل .

**منبع اود خبريدو نيټه** : نيويارک تا يمز (2019-01-24)

**ژباړونکی** : پوهند وی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

## دامريکی دمتحده اياﻻتواود طا لبا نو ترمينځ په خبروکی له افغانستان ځخه د وتلو په اړين پرمختګ راغلی دي

*US and Taliban make headway in talks for withdrawal from Afghanistan*



*دجون ميا شت دافغا نستا ن د ننګرهار په ولايت کی د طا لبا نو جنګيا لی . د طا لبا نو چاروای اودامريکی د متحده اياﻻتو داستا ذو تر مينځ چی ممکن په قطر کی سره خبرو ته کينښيني ترځو چي د يو احتما لی تړون په اړه سره موافقی ته ورسيږی کريډت پرويز/ رويټر .*


**کا بل افغا نستا ن** : دامريکی اود طا لبا نو مذاکره کونکو د خپلو خبرو په روند کی پرمختګ کړی اوهغه داچي امريکا يا نو منلی دی چی خپل قوتونه له ا فغا نستا ن ځخه

با سی اوهغه هم په دی شرط چی طا لبا نو تعهد وسپا ری چی خپل هیواد به په راتلونکی کی د ترویستا نو لپاره لکه دالقاعدی ډلو ته دکوربه په بڼه نه کا روي داهغه څه دی چي پرون د ډیپلوماتونو په ډاګه کړل او وویل :

دامریکی دمتحده ایالاتو دځانګړی استاذی « ځلمی خلیلزاد » اودطالبانو دچارواکی ترمینځ په خبرو کی دقطر ددوحه په ښار کوم چی هلته له اوږدی مودی څخه دشورشیانو رسمی دفتر دی په مخامخ خبرو کی وروسته دڅلوروم پړاو څخه یو احتمالی موافقی ته سره رسیدلی دی ،لاکن دمذاکراتو پوره جزیات لا تر اوسه په ډاګه شوی نه دی اوهغه لکه داچی امریکا یا نو خپل څه شمیر سرتیری له افغا نستا ن څخه با سی اویا د هغو دا یستلو مهال ویش لا تراوسه پټ سا تل شوی دی .

له بلی خوا څخه دا فغا نستا ن دولتی چا رواکي په عمومی توګه سره دامریکی اود طالبانو داحتمالی موافقی پر خطوطوباندي چی ممکن دهغه پایلی په داګه شی کوم رغنده نیوکی نه دی کړي بلکه هغوی یعنی دافغانستان دولتی مقامات وایی چی جګړه ته دپای لوبی به دحکومت اودطالبانو ترمینځ په مستقیم مذاکراتو کی باید پای ته ورسیږی کوم چی طالبانو په وار وار سره ددولت دا خبره نه دی منلی اوهغه یی رد کړی دي .

په خبرو اتروکې، متحده ایالات د طا لبا نو د ژمنو په تبا د له کې د کنکریټ امتیا زونو احساس کوی چې که امریکایي ځواکونه هیواد پریږدي نو په هغو صورت کی طا لبا نو دا توان نه لری چی هیواد اداره کړی لکه چی ډیری څا رونکي په دې باور نه دي چې افغان پوځ بی دامریکا یی قوتونو د حضورڅخه وتوانیږی چی دطا لبا نو په وړاندی ودریږی .



دپکتیاّ په ولایت کې د( 101 )هوايې څانګې څخه امریکایي سرتیري، افغانستان، 2013 کېریدت CreditSergey Ponomarev دنیویارک ټایمز لپاره

د طالبانو پخواني چاروا کی سید اکبر آغا، چې اوس په کابل کې اوسیږي، هغه کس دی کوم چی هغه د یاغیا نو ترمنځ پیا وړي اړیکې لري، وویل چې امریکا یا نو په روان خبرو اترو کی هوکی وکړ چې د متحده ایالاتو پوځونه د دې ژمنې په بدل کې له افغانستان څخه وځی چی ا فغا نستا ن بیا له سره دترهګرو په ځاله بدل نشی سره موافقه وکړ.

ښاغلي سید اکبر آغا وویل: "لکه څنګه چې زه پوهیږم، دواړو خواووپر دواړو مسلو باندې سره موافقه وکړه کوم چی د همدی ورځی په وروستیو کی به موضوع اعلان کړ شی .

په کا بل کې لوید یځ ډیپلوما ټا نوهم وویل چې دوی به د دې تړون په اړه په سملا سی سره د اعلان په انتظار کی دی .

خو د پنجشنبی په ورځ نا وخته طا لبا نو په یواړخیز بنی سره د سولې خبرو اترو دپاره خپل نوی مشر وټاکل چی هغه ، ملا عبدالغنی برادر دی ، یعنی دطالبانو دګروپ پخوانی مرستیا ل چې په وروستیو کلونو کې یې د پاکستان په زندان کې تیر کړل.

طالبانو د یوې اعلامیې په ترڅ کې وویل: " دا اقدام د امریکا سره د خبرو اترو پیا وړتیا لپاره دی." اما د خبرو اترو په یوه حیا تي مرحله کې داسې مهم بد لون رامینځ ته شوی، مګر، څرګنده نده. چی دا ولی ؟

داتړون به په افغانستان کې د طالبانو ملاتړ کوي چی اوربند ومنی او د متحده ایالاتو او طا لبا نو دواړو خواو ته شرایط تر لاسه کوی چی د بند یا نو خوشې کولو لپاره هم چمتو شی

د طا لبا نو یو جګ پوړی چا رواکی د خبرو اترو په اړه خبر ورکړچی د څلور ورځنیو مذاکراتو اسا سا ت تایید شوی مګر هغه دا تا ید نکړچې معامله بلکل پای ته رسید لی چې په رسمی بڼی دهغه پایلی ته چي انتظار وړل کیږی رسماً اعلان کړ شی ، نو باید چی دخبرو دپایلو داعلان انتظار وویستل شی اما هغه څه چی دویلو دی هغه دادی چی مذاکرات " په دوو مسلو باندی متمرکز شوي وه - یو له افغا نستا ن څخه دخارجی د سرتیرو وتل او بل داچی وروسته له دی د ا فغا نستا ن خا وره به د چا په وړاندې ونه کارول شي." هغه وویل :

دطا لبا نو یو بل چارواکي، د کوټې، پاکستان، چیرته چې د بغاوت مشرتا به قرارګاه یا مرکزی دفتر دی د تیلفون دکرښی په تما س سره وویل چې دا خبره د یره چټکه وه چې دا تړون بشپړ شوی ، حا ل داچی ا صلی موضوع دادی چی د دواړوخواوو په خبرو کی پرمختګ شوی دی

"اجنډا په تیره بیا د امریکایي سرتیرو د وتلو په اړه متمرکز وه، په کوم کې چې د متحده ایالاتو خوا ځینې نرمښت ښود لی، مګر دا لا هم پای ته نه دی رسید لی." " د وروستی

*موافقې ته د رسېدو دمخه دېر کا ر کول لازم ګڼل کیږي ."*

*د طالبانو دواړو چارواکو د نوم د نه ښودلو په شرط خبرې وکړې ځکه چې دوی اجازه نه درلوده چې په عامه توګه خبرې وکړي.*




***په کابل کې طا لبا نودامنیتی ځواکونو د موټر په تم ځای یا پرکنګ کی په تیرمیاشت کی بمی جاودنه ترسره کړ کریټېرا هتات ګل / اسوشیتید پریس***

*نظیر محمد مطمین چې یو افغان سیاسي شنونکی دی، پخوا یې د طا لبا نو د حکومت په دوران کې د یو چارواکي په توګه دنده ترسره کوله هم وویل چې دواړه خواوې په لاره کې د یو تړون اعلان کولو ته نږدې دي. خو ښا غلی مطمین چې پخوا یې د طا لبا نو په اړه ښه خبر ورکړی و، هغه دا وه چی امریکا یا نو ټینګا رکاوه چې د امریکایي سرتیرو د وتلو په اړه تړون به د طا لبا نو په موافقه د اوربند سره یوځای وي.*

*ښاغلي مطمین وویل: "په دې خبرو کې بل مهم مسله د طالبانو په بند یخا نې کې د دوو امریکا یا نو تبا د له ده." "امریکا یا ن د دغو دوو څخه ژر تر ژره دیو امریکایی بندی خوشې کولو غوښتنه کوي، چې هغه ناروغه دی. په بدل کې، امریکا یا ن به د طا لبا نو ځینې بند یا ن خوشې کړي. خبرې لا تراوسه پای ته نه دي رسیدلی، نو زه نشم کولی د دې تصد یق وکړم چې دواړه لوري د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره موافق دي."*

ښاغلی مطمین وویل، چې دخبرو پایلی ممکن چې د جمعې په ورځ د طالبانو لخوا د غرمې لمونځ څخه دمخه د اعلان وشی.

دا روښانه ندی چې طا لبا ن دوه امریکایی بند یا ن نیولی وی، مګر دغه حواله کیدی شي چې د افغا نستا ن د امریکا یی پوهنتون، دوه ا ستا دا ن چې یو امریکا یی او بل استرالیا یی دی په کا ل « 2016 » کې د طا لبا نو په وا سطه سره تښتول شوي وو چې ممکن همغوی به وي .




## په دوحه (قطر) کې د طالبانو په دفتر کی اوږد مهال مذاکرات دوام لری

## کریډمهرډ دابس / رویټرز

په کا بل کی دوه ولوید یځ د یپلوما تا نو په یو خبری نا سته کې وویل چې د طا لبا نو اودامریکا یا نو د خبرو اترو په جریا ن کی هغه د مشا جری یا د نه جوړیدونکی ټکي چې په انګلیسی ژبه ورته ( sticking point ) وایی دامریکا یی سرتیرو له ا فغا نستان څخه دوتلو پرمها ل ویش با ندی متمرکز وه او هغه داچې آیا امریکا یی سرتیری دیوکال په موده کی له افغانستان څخه وځی اویاداچې دغه مهال لا پسی اوږدیږی – اما دغه دوه دیپلومات اونورو خپل خوشبینی څرګند کړه چې د سولې په بهیر کې بریالیتوب ممکن نژدی وی.

دا فغا نستا ن لپا ره د اروپا يي اتحا د يې ځانګړی استا زی، **رولند کوبيا** وويل "موږ. باید چمتو اووسوو ."

ښاغلی **کوبيه** وويل چې اروپا يي اتحا د يه وړانديز کړی چې د راتلونکی تړون پلي کولو لپا ره د ضما نت کولو رول ولوبوي. "دا د بيپلوما تيک او سيا سي فعا ليت په بشپړ ډول نوي اړخونه رامنځته کړي دي"."ا وس، سمد ستی تا سو هيڅکله نه پوهيږئ – ځکه چِی دا اوږد وخت نيسي، ياداچی زر روښانه کيږي »

د امريکا چا رواکو تراوسه په دوحه کې د خبرو ا ترو په اړه هيڅ کوم نظر نه دی ورکړی، او **خليلزاد** چې يو افغا ن تبا ر– امريکا يی دی چې په افغانستان او عراق کې د سفيرپه توګه دنده ترسره کړي، په حسا ب پخپل ټويټرکې په غير معمولي توګه سره چپ پا تې شوی دی. د سولې د مذاکراتو په اړه کوم چی هغه پخوا په دوحه کې د طالبانو سره ليد لي دخبرو دپا يلی په اړه څه نه دی ويلی ، کوم چی تر اوسه پورې عامه خلک څه خبرتيا نه لری اويا داچی خلکو فکر نه کا وه چی دا مذاکرات به تر څلورو ورځو پورې. دوام کوی؟

د **خليلزاد** د سولی د پروسی وروستی د نده دهغه ليد نه له اسلام آبا د څخه وه .

بی ويلو دی پاتی نشی اوهغه داچي امريکا يا نواو افغا نا نو په وار وار پاکستان را هڅولی دی چي طا لبا ن د مذاکری د ميزترشا دراوستلوپه اړين خپل رول ولوبوي اودا ځکه چي طا لبا ن له اوږدی مودی څخه په پا کستا ن کی پټن ځا يونه لری او په اصطلاح پا کستا ن پوری تړلی خلک دی او دهغه هيواد د پوځ او د اطلاعا تی سازمان (آی اس آی ) سره نژدی همکاری لری .

ښاغلی خليلزاد داسی څرګند کړ : مونږدپاکستان له خوا د تينګ قدمونو په اخيستلو سره د سولی درامينځته کيد و په سمه لار روان يو ، او هيله لرو چی د پام وړ پا يلی تر لاسه کړو هغه وويل:



پخوانيو طالبانو او اسلامي دولت وسله والو په جلال اباد ښار کې د پخلاينې د مراسمو په ترڅ کې خپل وسلې تسليم کړې. افغانستان. کری کريګال الله حبيبي / EPA، د شټرورتاک له لارې (via Shutterstock)

همدا شان ددوحي په خبرواتروکی لیزا کورتیس(Lisa Curtis) دجمهور ریس ترومپ دویاند مرستیا ل او د جنوبی او مرکزی آسیا ته د ملی امنیت د شورا لوړ پوړی مدیر هم ګډون لرل . دخبرو اود مذاکراتو په جریان کي دافغان دچارواکو پر اند بیننی با ندی له دی نه چی که چیری امریکا یی قوتونه له افغانستان څخه ووځی یوڅه تشویش رامینځته شو .

د د سمبر په میا شت کې، د پنټاګون چارواکو وویل چې ښاغلی **ټرمپ** د افغانستان له ټولو موجوده قوتونو څخه نیما یی برخه یعنی ( 7000) امریکايي سرتیري به وبا سي، مګر هیڅ اشا ره نه وه کړې چې دا ډول وتلو به د سولې ترون سره تړاو ولري.
سپینی ما نی وروسته بیا رد کړ چی ښاغلی ترومپ له افغا نستا ن څخه دامریکا یي سرتیرو دوتلو سمد ستی امر نه دی ورکړي بلکه راپورونه داسی څرګندوی چی جمهور ریس دونالد ترومپ امرکړی وه چی امریکا یی سرتیری له سوریي څخه را با سی کوم چی دغه امر د دی موجب شو چی دامریکی د فاع وزیر **جیمس ماتیس** استعفی ورکړی او دخپل استعفی دلیل دا سی راوړل چی نه باید له افغانستان او له سوریی څخه امریکایی سرتیری وویستل شی .

په ا فغا نستا ن کی د بهرنیو قوتونو لوی قوما ند ان امریکا یی جنرال **اوستین اس میلر** (Millere) افغانی مسول چارواکو ته ډاډ ورکړ چی مونږ ته دا سی کوم روښا نه دستورالعمل نه دی راکړ شوی چی امریکایی قوتونه له ا فغا نستا ن څخه وویستل شی دا یواځی د میډ یا پروپاګند او تبلیغات دي .
دا فغا ن داند بیننی اود نګرا نی له ا فغا نستا ن څخه د امریکا یي قوتونو د ویستلو په اړین په ډیرو مواردو کي با ور په دی کی دي چي افغا نی قوتونه په دی هڅه او اند کی دی چی هغوی بی د امریکا یی قوتونو د ملاتړ څخه پخپله د طا لبا نو په مخکی ودریږي .

جنرال **کنث اف . مککنیزی جونیور**(Kenneth F. Mckenzie Jr) دمرکزی قوماندی نوی قوما ندا ن تیره میا شت کنګری ته په یو توضیحی وینا سره وویل : که چیری مونږ اوس سمدلاسه په ډیر بیړه سره له ا فغا نستا ن څخه ووځو ، با ور می نه راځی چی ا فغا نی امنیتی قوتونه دا توان ولری چی د خپل هیواد څخه سا تنه وکړی زه داسی فکرکوم چی یو له د یرغتې ستونزی څخه به دا وی چی ا فغا نا ن بی له ځمونږ له حضور څخه به ډیر نقص او ستر تا وان وکړي .
**ا فغا نی مسولو چا رواکو د امریکی او د طا لبا نو تر مینځ د خبری اتری په اړین په ډیر احتیا ط سره غبرګون وښودل :**
دا فغا نستا ن جمهور ریس **اشرف «غنی»** د سویس د **دابوس** (Davos) له ښا ر

څخه پخپل تویت کی په شد ید لیکنی سره دا سی تویت وکړ چی د **ځلمی «خلیلزاد»** د ماموریت اصلی فعا لیت باید دا اووسی چی طالبان وهڅوی چی د ا فغا ن د حکومتی مسولینو سره د مذاکری د میز تر شا کینیني .



**دامریکی دمتحده ایالاتو دسولی سفیر ځلمی (خلیلزاد) په ښی اړخ دپاکستان د باندنیو چارو محمود قریشي سره په اسلام آباد کي ( Pakistan foreign office )**

د طالبا نو انکا ر دافراطی ډلو تپلو لکه دالقاعدی سره ممکن چی د یوکوچني امتیاز په توګه نظر ته ورسیږی کوم چی دا مسله ډیر حسا س دي.
دالقاعدی څخه په نوم اخیستنه یا دلیل دا وه چی امریکایان دسپتمبر په(۱۱) کی دالقاعدی دمینځه وړلو دپاره پر افغانستان باندی حمله تر سره کړ اوداځکه چي په هغه وخت کی یعنی د طا لبا نو په زمامد ا ری کی ا فرا طی ډلي اودهغی له جملی څخه **اسما بن لادن** دالقاعدی مشر دهغو په اختیا ر کی وه سره له هغه چی طا لبا نو په وار وار سره انکار کړی دی چی مونږ دالقاعدی سره کوم نژدی تما س او علاقه نه لرو یا داچی د القاعدی حضور په منطقه کی خورا زیا ت را تیت شوی دی مګر دپام وړ مطلب دا دی چی **بن لادن** اودهغه سره په نژدی ملګریو باندی طالبا نوهیڅکله ګوتې ځند نه نه دی کړی اودا خکه چی **بن لادن** اودهغه ملګری د طا لبا نو له خوا ډیر درناوی کیدل .

رسمی مقا ما ت یادونه کوی چی د سولی د پلی کولو د پا ره لا زیا ت د نور ګامونه اوچتول ډیر ضرور دي. او امریکا یی لوری په ا حتما لی ښی سره زیا ر با سی چی طا لبا ن قا نع کړی چی د ا فغا نستا ن د حکومی چا رواکو سره کوم چی اوس طا لبا ن د خپل نه کینا ستو با ندی اصرار کوی مخا مخ خبرو ته کینینوي- اما داروپا د اتحادی استا زی ښاغلی کوبیا (Kobia) وویل چی د سولی درامینځته کید و د پاره حرکت با ید

*چې ونه درېږي اولازم نه دی چې مونږ تیرو څو میاشتو ته بیرته را واوړو او ووایو او ځما خدا یه مونږ ولې ښه فرصتونه دلاسه ورکړل .*

----------------------------- ***په درنا وی «2019-01-26»***